# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**28 سنبله _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


مسلكي مرستيال په كابل كې د تركيې سفارت سلاكار او قونسل سره ليدنه وكړه-------------------------------------1
معين وزارت امور مهاجرين؛ خواستارايجاد یک میکانیزم برای رسیدگی به مشکلات مهاجران افغان در ترکیه شد -----2
د پاكستان له زندانونو څخه د آزاد شوو مهاجر په ګډون له ۴۰۰ زيات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول-----------3
بادغيس ولايت كې لسګونو مېرمنو ته كرنيزې كڅوړې و وېشل شوې ----------------------------------------------3
د پاكستان څخه له ۵۰۰ زيات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول--------------------------------------------------4
بلخ كې ۲۰ كورنيو ته د خياطی وسايل وركړل شول ---------------------------------------------------------5
سمنګان كې له ۱۰۰ زياتو كورنيو سره مرستې وشوې --------------------------------------------------------6
ننګرهار كې ۴۱ كورنيو سره د خوراكي توكو مرستې وشوې -------------------------------------------------7
بازداشت بیش از ۸۰۰ مهاجر افغان در یک هفته در پاکستان ---------------------------------------------------8
رئیس کمیسیون اروپا در لامپدوزا: «مهاجرت غیرقانونی به اروپا، نیاز به یک پاسخ اروپایی دارد» ---------------10
اسلام آباد كې تر ۲۰۰ ډېر افغان كډوال نيول شوي دي--------------------------------------------------------11
بریتانیا: فرانسوی جوړه د كډوالو د قاچاق په تور په بند محكومه شوه----------------------------------------11
شاروالی کابل، یک پل موتر در ساحهٔ کمپنی اعمار می کند-----------------------------------------------------13

# متن کامل اخبار

## مسلکي مرستيال په کابل کې د ترکيې سفارت سلاکار او قونسل سره ليدنه وکړه

د وزارت وېب پاڼه



**د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد په کابل کې د ترکيې سفارت له داخلي سلاکار آقايان عبدالله دندار او قونسل آلپ بورا سره په خپل کاري دفتر کې ليدنه وکړه.**

**په دې ليدنه کې په ترکيې کې د افغان مهاجرينو پر ستونزو خبرې اترې وشوې.**

**مسلکي مرستيال په هغه هېواد کې له مېشتو افغان کډوالو سره په بېلا بېلو برخو کې د ترکيې هېواد او خلکو د همکاريو څخه مننه وکړه.**
**په کابل کې د ترکيې سفارت سلاکار عبدالله دندار وويل؛ موږ په ترکيې کې د مېشتو افغان کډوالو سره د دوستۍ او ورور ګلوۍ اړيکو ته پراختيا ورکوو او له ترکيې څخه له ۶۰۰ زيات افغانان، چې اسناد نه لري غواړي خپل هېواد ته ستانه شي، په دې برخه کې د افغانستان حکومت څخه د همکاريو غوښتنه کوو.**

**ښاغلي راشد د ترکيې هېواد د همکاريو څخه مننه وکړه او ويې ويل؛ په ترکيه کې د افغان کډوالو د ستونزو د هواري په خاطر يو داسې ميکانيزم او کړنلارې ته اړتيا ده، چې بايد د دواړو خواوو ترمنځ د هوکړې له مخې چمتو شي، چې د هغې له مخې افغان مهاجرين په عزت او وقار سره خپل هېواد ته راستانه شي او دا موضوع بايد د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې او مرستندويه بنسټونو سره شريکه کړو، ترڅو په راتلونکې کې ملګري ملتونه دې ته قانع کړو چې په دې برخه کې همکاري وکړي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د ترکيي سفارت سلاکار د مقابل لوري خبرې تائيد کړې او ويې ويل؛ موږ په دې برخه کې هرډول همکاريو ته چمتو يو او له تاسي سره به مرسته کوو. هغه همدارز د مهاجرينو چارو وزارت او ترکيي سفارت ترمنځ د ارتباطي سيستم د رامنځته کېدو غوښتنه وکړه. مسلکي مرستيال وويل، موږ به د حکومت له مشرانو سره خبرې وکړو او ياده موضوع به ورسره شريکه کړو.

په پاي کې دواړو لوريو په همکاريو او همغږيو ټينګار وکړ.

په دې ليدنه کې په خپله خوښه راستنېدو ته د هڅوني رئيس مولوي محمد جان خدرخېل هم شتون درلود.

## معین وزارت امور مهاجرین؛ خواستارایجاد یک میکانیزم برای رسیدگی به مشکلات مهاجران افغان در ترکیه شد

آژانس اطلاعاتی باختر



معین وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان در دیدار با قنسل سفارت ترکیه در کابل، گفت برای رفع مشکلات مهاجرین افغان در ترکیه، ایجاد یک میکانیزم وطرز العمل نیاز است که باید در تفاهم میان دو طرف تهیه و مورد استفاده قرار گیرد.

دفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان در خبرنامه گفته است: مولوی عبدالرحمن راشد، معین آن وزارت با آلپ ارسلان بورا قنسل سفارت ترکیه در کابل و عبدالله دندار، مشاور آن سفارت دیدار کرد و در مورد مشکلات مهاجرین افغان درترکیه بحث صورت گرفت.

عبدالله دندار مشاور سفارت ترکیه در کابل گفت که با روابط دوستانه و برادرانه روابط مهاجرین افغان را در ترکیه به پیش میبریم، وی گفت که بیشتر از 600 افغان از ترکیه خواهان برگشت به افغانستان میباشند که فاقد اسناد هویتی و مدارک لازم بوده و در این مورد خواهان همکاری حکومت افغانستان هستیم وی همچنان خواهان ایجاد یک سیستم ارتباطی میان وزارت امور مهاجران و سفارت ترکیه شد.

**معین وزارت امور مهاجرین با قدر دانی از همکاری های آن کشور گفت: برای رفع مشکلات مهاجرین افغان در ترکیه، ایجاد یک میکانیزم وطرز العمل نیاز است که باید در تفاهم میان دو طرف تهیه و مورد استفاده قرار گیرد که مطابق به آن مهاجرین با عزت و اسناد و مدارک هویتی برگشت نمایند، و موضوع را با سازمان ملل متحد و ادارات مدد رسان در میان بگزاریم که در این مورد همکار باشند.**

## د پاکستان له زندانونو څخه د آزاد شوو مهاجر په کډون له ۴۰۰ زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت وېب پاڼه



**له پاکستان  څخه د وږي په ۲۶مه ۴۷۰ تنه افغان مهاجر هېواد ته راستانه شول.**

**د سپین بولدک د مهاجرینو چارو آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې۶۰ کورنی، چې۳۸۵ تنه کېږي په خپله خوښه او ۸۵ تنه نور له بند څخه آزاد شوي افغانان وو، چې په جبري توګه هېواد ته راستانه شول.**

**سرچینې زیاتوي، چې  د ثبت او راجستر وروسته  د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړۍوال سازمان  ته ور وپېژندل شول او یو شمېر راستنېدونکي چې په بېلابېلو ناروغیو اخته و د سلامت شبکې له لوري یې وړیا درملنه وشوه او همدارنګه د ناروې  د مهاجرینو ټولنې له لوري ور ته حقوقي مشورې وکړل شوې او هر کس ته یوه یوه خوراکي  کڅوړه هم ووېشل شوه**

## بادغیس ولایت کې لسګونو مېرمنو ته کرنیزې کڅوړې و وېشل شوې

د وزارت وېب پاڼه




**د ټولنې د پیاوړتیا له پاره د ښځو د یووالي مؤسسې له لوري د بادغیس ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکاری ۷۵ بېځایه شوو او راستنېدونکو میرمنو ته د وړي په ۲۶ مه کرنیزې کڅوړې وېشلې.**
**یادو میرمنو هرې یوې ته یې د شېړو میاشتو زده کړو وروسته چې د مېوو او سبزیجاتو د پروسس په برخه کې تر سره کړې وې یوه یوه کرنیزه کڅوړه، چې پکې ۱۶ قلمه مواد شامل وو د ذکر شوې مؤسسې له لوري ووېشل شوه.**

## د پاکستان څخه له ۵۰۰ زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت وېب پاڼه



**د ننګرهار ولایت د تورخم له لارې ۵۵۰ تنه افغان مهاجر د وړې له ۲۴ څخه تر ۲۶ مې نېټې پورې هېواد ته راستانه شول. د ننګرهار ولایت د تورخم د مهاجرینو چارو آمر په خبره هرې راستنېدونکې کورنۍ سره د مهاجرت نړۍوال سازمان له لورې نغدي او د کور د اړتیا وړ توکو مرستې وشوې**

## بلخ کې ۲۰ کورنیو ته د خیاطۍ وسایل ورکړل شول

د وزارت وېب پاڼه



**د ناروې د مهاجرینو ټولنې له لوري د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ ۲۰ کورنیو سره د وړې په ۲۶مه د خیاطۍ د وسایلو مرستې وشوې.**

**یادو کورنیو هرې کورنۍ ته یو یو د خیاطۍ ماشین، اتو، میز او څوکۍ د مهاجرینو چارو ریاست په شتون کې وویشل شوې.**

## سمنګان کې له ۱۰۰ زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت وېب پاڼه




**د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له لوري د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکاری ۱۳۸ کورنیو سره د وړي په ۲۶مه نغدي او د شپږو لرونکو وزو مرستي وشوي.**

**د یادو کورنیو له ډلي ۹۳ کورنیو هرې کورنۍ ته ۳ شپږې لرونکي وزې او ۴۵ کورنیو هرې کورنۍ ته په دوو کټګوریو کي ۲۲ زره او ۶۰۰ او ۲۷ زره او ۵۰۰ افغانی ووېشل شوې.**

## ننګرهار کي ۴۱ کورنیو سره د خوراکي توکو مرستي وشوې

د وزارت وېب پاڼه




**د خوراک نړیوال سازمان له لوري د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ ۴۱ کورنیو سره د وړې په ۲۶مه د خوراکي توکو مرستې وشوې.**

**دغه کورنۍ، چې مخکې د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري په مهمند درې او تورخم کې سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې هرې کورنۍ ته څلور قلمه خوراکي توکي وېشل شوي.**

## بازداشت بیش از ۸۰۰ مهاجر افغان در یک هفته در پاکستان

طلوع نیوز



سرقونسل امارت اسلامی در کراچی پاکستان آمار داده است که بیش از ۸۰۰ مهاجر افغان در یک هفته گذشته در پاکستان بازداشت شده‌اند.

عبدالجبار تخاری گفته است که کودکان نیز در میان بازداشت شدگان حضور دارند و بسیاری این افراد از ایالت سند بازداشت شده‌اند.

پس از سخنان نخست وزیر موقت پاکستان در باره اخراج مهاجران افغان از این کشور اکنون شماری از این مهاجران از افزایش بازداشت مهاجران افغان در اسلام‌آباد و شماری از شهرهای دیگر پاکستان سخن می زنند.

بربنیاد گفته‌های آقای تخاری، ۲۰۰ نفر از کسانی که اخیرا بازداشت شده بودند، بر اثر تلاش‌های قونسل‌گری امارت اسلامی رها شده؛ اما روند بازداشت‌ها ادامه دارد.

عبدالجبار تخاری به طلوع‌نیوز گفت: «گرفتاری‌ها تا هنوز جریان دارد و کسانی‌که اسناد دارند، آنان را نیز بازداشت کرده و زندانی می‌کنند. بعضی از افغان‌ها را که اسناد دارند، در بدل پول رها می‌کنند«.

میر احمد رووف، رییس شورای مهاجران افغان در پاکستان در این باره گفت: «در این هیچ شک نیست که حال از کراچی، کویته، چترال، پشاور و سایر بخش‌ها بازداشت می‌کنند. این بازداشت‌ها شامل اسلام‌آباد هم شده است. در اسلام‌آباد در "دی هفده" آمدند و با پولیس زن و مرد هجوم بردند و در منطقه مارکیت میوه یک تعداد مردم را بازداشت کردند«.

مهاجران افغان در پاکستان می‌گویند که از بازداشت و بدرفتاری پولیس پاکستان به ستوه آمده‌اند. آنان از امارت اسلامی می‌خواهند که بی‌درنگ در این باره گام بردارد.

همزمان با این، امارت اسلامی از پاکستان می‌خواهد که با مهاجران افغان در آن کشور رفتار بهتر داشته باشد.

ذبیح الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی به طلوع‌نیوز گفت: «از کشور پاکستان می‌خواهیم که تعامل خود با مهاجران را نارمل داشته باشد؛ چون پاکستان و افغانستان مشترکات زیاد دارند، رفتو آمد ها زیاد است و حتا قرابت‌هایی در نزدیکی خط دیورند داریم که تعامل آنان باید با مهاجران نیک باشد«.

طاهرخان، خبرنگار پاکستانی به طلوع‌نیوز گفت: «این مساله گفت‌وگوی جدی را می‌خواهد و به نظر من نقش حکومت مرکزی افغانستان در این مساله خیلی مهم است که آنان به پاکستان سفر کنند و دریابند که این موضوع چگونه ایجاد شده است و چگونه باید حل شود».

پیش از این هم شماری از مهاجران افغان در پاکستان از برخورد نادرست نظامیان پاکستانی بارها شکایت داشته‌اند.

## رئیس کمیسیون اروپا در لامپدوزا: «مهاجرت غیرقانونی به اروپا، نیاز به یک پاسخ اروپایی دارد»

مهاجر نیوز

**بعد از رسیدن حدود ۱۰۰۰۰ مهاجر به جزیره لامپدوزا در ایتالیا، جیورجیا ملونی، نخست وزیر راستگرای این کشور به همراهی اورسلا واندر لین، رئیس کمیسیون اروپا، از جزیره دیدار کردند. در این دیدارآنان بر مبارزه هر چه جدی‌تر علیه قاچاق مهاجران و اخراج پناهجویانی که شانس پناهندگی ندارند، تاکید کردند.**

مقام‌های ایتالیایی برای پنهان کردن وضعیت تنش آلود در لامپدوزا هنگام سفر رئیس کمیسیون اروپا، آمادگی‌هایی لازم را گرفته‌بودند اما شماری از ساکنان جزیره که از حضور مهاجران ناراضی هستند، می‌خواستند کاروان حامل هردو رهبر را متوقف کنند.

به گزارش فرستاده ویژه مهاجر نیوز به لامپدوزا، در مرکز ثبت نام مهاجران، مقام‌ها تلاش کردند با پاک کاری و دور نگهداشتن مهاجران از دروازه ورودی، آرامش ظاهری در مرکز را حفظ کنند.

در مرکز ثبت نام مهاجران، مقام‌ها تلاش کردند با پاک کاری و دور نگهداشتن مهاجران از دروازه ورودی، آرامش ظاهری در مرکز را حفظ کنند. عکس: مهاجر نیوز

دیدار رئیس کمیسیون اروپا و نخست وزیر ایتالیا از مرکز ثبت نام، فقط ۹ دقیقه طول کشید و سپس هردو رهسپار بندر لامپدوزا شدند.

در همین زمینه :ایتالیا: طی ۴۸ ساعت بیش از ۶۰۰۰ مهاجر وارد لامپدوزا شدند
جیورجیا ملونی قبل از سوار شدن به هواپیما خواستار هماهنگی بیشتر در مدیریت بحران مهاجران شد و گفت: «آنچه در اینجا جریان دارد، آینده‌ای است که اروپا خواستار آن است.» او سایر کشورهای عضو و همکار را سرزنش کرد که در پذیرش مهاجرانی که وارد ایتالیا شده‌اند، همبستگی نشان نداده‌اند. از آغاز سال حدود ۱۳۰ هزار مهاجر وارد ایتالیا شده‌اند.

»مهاجرانی که شانس پناهندگی ندارند، باید به کشورهای خود بازگردند«
اورسلا واندر لین،رئیس کمیسیون اروپا نیز روی همبستگی اروپایی تاکید کرد و گفت که «مهاجرت غیرقانونی اروپا را به چالش کشیده و نیاز به یک پاسخ اروپایی دارد«.

در همین زمینه :آلمان برنامه پذیرش داوطلبانه مهاجران از ایتالیا را تعلیق کرد
او برای مقابله با وضعیت اضطراری برنامه‌ای را پیشنهاد کرد که تلاش‌های بیشتر آژانس کنترول مرزهای بیرون اتحادیه اروپا یا فرانتکس در مبارزه علیه قاچاقبران، تسریع کمک‌های مالی به تونس به عنوان کشور اصلی در مسیر مهاجرات از افریقا و تقویت راه‌های قانونی مهاجرت به اروپا را در بر می‌گیرد.

او در بخشی از اظهاراتش گفت: «قاچاقبران به مهاجران دروغ می‌گویند و به این ترتیب میلیون‌ها یورو را به جیب می‌زنند.» او در ادامه گفت که همه مهاجران نمی‌توانند پناهندگی به دست بیاورند و باید به کشورهای خود بازگردند و تاکید کرد: «این قاچاقبران نیستند که درباره ورود به اتحادیه اروپا تصمیم می‌گیرند، بلکه ما هستیم«.

موضوع مهاجرت در جلسات آینده اروپا و سازمان ملل متحد ؟

این در حالیست که روز شنبه، ژرالد دارمنن، وزیر داخله فرانسه و همتاهای آلمانی و ایتالیایی اش یک کنفرانس تیلفونی درباره وضعیت اضطراری در لامپدوزا برگزار کردند. در این کنفرانس، کمیسار اروپا در امور داخلی و نماینده اسپانیا در شورای اتحادیه اروپا نیز شرکت داشتند. قرار بود وزیر داخله فرانسه امروز (دوشنبه) به لامپدوزا سفر کند.

به گفته شارل میشل، رئیس شورای اروپا، موضوع مهاجرت در دو جلسه عمومی در ماه اکتوبر مطرح خواهد شد. وزیر خارجه ایتالیا نیز اعلام کرد که تلاش خواهد کرد موضوع مهاجرت را در جلسه عمومی سازمان ملل متحد بگنجاند.

همزمان با این تلاش‌ها و انتقال مهاجران به سایر نقاط، ورود مهاجران به لامپدوزا همچنان ادامه دارد. به گزارش مهاجر نیوز، نظامیان مستقر در لامپدوزا گفته‌اند که طی ۲۴ ساعت گذشته ۱۵۰۰ مهاجر جدید وارد جزیره شده‌اند.

## اسلام آباد کې تر ۲۰۰ ډېر افغان کډوال نیول شوي دي

**مهاجر نیوز**

د رسنیو د راپورونو له مخې د پاکستان پولیسو د یکشنبې په ورځ پلازمېنه اسلام آباد کې تر ۲۰۰ ډېر افغان کډوال نیولي دي. دا وروسته له هغه چې د پاکستان چارسمبالي لومړي وزیر له دغه هېواد څخه د بې اسناده افغان کډوالو د ایستلو خبر ورکړ.

د پاکستان امنیتي ځواکونو یکشنبه سهار د پلازمېنې اسلام آباد د ترکارۍ او مېوې له منډيي څخه تر ۲۰۰ زیات افغان کډوال نیولي دي. ویل کېږي چې ډېریو دغو کسانو قانوني اسناد درلودل.

دغه افغانان له هغه وروسته نیول کېږي چې څه موده مخکې د پاکستان چارسمبالي لومړي وزیر انورالحق کاکړ له رسنیو سره خبرو کې وویل بې اسناده افغانان پاکستان کې د اوسېدو اجازه نه لري. نوموړي زیاته کړه چې ټول هغه افغانان چې له اسنادو پرته په پاکستان کې ژوند کوي «په بېړني ډول» له دغه هېواد څخه ایستل کېږي.

د انورالحق کاکړ په خبره، پاکستان د هغو افغانانو هرکلي ته ادامه ورکوي چې د ملګرو ملتونو د عالی کمیسارۍ په کمپونو کې اوسېږي، خو هغه افغانان چې پاسپورټ، ویزه او یا د اوسېدو جواز ونه لري دوی به خپل هېواد افغانستان ته استول کېږي. هغه دا هم وویل چې یو شمېر افغانانو ځان ته جعلي اسناد جوړ کړي دي.

په تېرو څو ورځو کې د پاکستان په کراچۍ ښار کې هم زیات شمېر افغان کډوال د اسنادو د نه لرلو په تور نیول شوي دي. بي بي سي د بشري حقونو مدافع وکیلې منیزه کاکړ له قوله لیکلي دي چې د سند ایالت پولیسو لسګونه داسې کسان نیولي چې پاکستان کې د پاتې کېدو اسناد هم ورسره دي .

په پاکستان کې د مېشتو افغانانو شمېر شاوخوا درې میلیونو تنو ته رسېږي چې له دغې دلې ۱،۴ میلیونه یې راجستر دي. برېتانوي ګارډین ورځپاڼې د روان کال په پیل کې لیکلي وو پاکستاني چارواکو تېر اوړی د هغو کډوالو د ایستلو لړۍ پیل کړه چې د اسنادو پرته دغه هېواد ته ننوتلي وو، خو د ۲۰۲۲ له اکتوبر راهیسې د افغان کډوالو نیول او ایستل تر پخوا ډېر شوي دي .

## برېټانیا: فرانسوی جوړه د کډوالو د قاچاق په تور په بند محکومه شوه

**مهاجر نیوز**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




د برېتانيا د هاو ښار محکمې يوه فرانسوی جوړه دغه هېواد ته د کډوالو د قاچاق په تور په ۹ کلونو او ۱۱ مياشتو بند محکومه کړې ده. دغو کسانو هڅه درلوده چې لاری موټر کې يوه ښځه او درې ماشومان برېتانيا ته انتقال کړي.

د برېتانيا د هاو ښار محکمې د جمعې په ورځ د سپټمبر په ۱۵مه جونيور توسن په ۴ کلونو او ۶ مياشتو او آندرن پل په ۵ کلونو او ۵ مياشتو بند محکوم کړل. پنځه ويشت کلن توسن او ۲۸ کلنې پل د محکمې په غونډه کې پرې لګول شوي تورونه ومنل.

يادې جوړې غوښتل چې څلور ويتنامي کډوال چې د لارۍ موټر تر شا د فرنيچرو منځ کې پټ کړل شوي وو د فرانسې له ديپ ښار څخه د برېتانيا نيو هاون پورټ ته ولېږدوي. دغه دوه کسان وروسته له هغه ونيول شول چې امنيتي ځواکونو د تلاشۍ پر مهال د موټر تر شا غږونه واورېدل.

که څه هم نيول شوې جوړې ادعا کوله چې لارۍ د کډوالو د شتون څخه خبره نه وه، خو د پوليسو تحقيقاتو ثابته کړه چې جونيو توسن د کډوالو په قاچاق کې ښکېل دی. همدارنګه له پلټنو وروسته معلومه شوه چې آندرن پل څو ځله په مشکوک ډول برېتانيا ته سفرونه کړي دي.

په ۲۰۱۸ کې کالې بندر او مانش تونل کې د امنيتي تدابيرو په زياتېدو سره زيات شمېر کډوال هڅه کوي چې د سمندر له لارې په وړو کښتيو کې ځانونه برېتانيا ته ورسوي، خو کارپوهان وايي چې ځينې مهاجر د پيسو د نه لرلو له امله په لاريو کې برېتانيا ته د تګ هڅه کوي.

له تېرو څو کلونو راهيسې برېتانيا د انګليس کانال له لارې د کډوالو د ورتګ د مخنيوي په موخه د کډوالۍ قوانين سخت کړي دي. د برېتانيا حکومت د نوي قانون له مخې دغه هېواد ته په ناقانونه طريقه رسېدلي کډوال هلته پناه غوښتلی نه شي او کېدای شي چې خپلو او يا د روندا په څېر درېمو هېوادونو ته واستول شي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## شاروالی کابل، یک پل موتر در ساحهٔ کمپنی اعمار می کند

آژانس اطلاعاتی باختر




**شاروالی کابل در نظر دارد که یک پل موتر بر فراز دریای کابل در ساحهٔ کمپنی اعمار کند.**

**چگونگی کار این پروژه در نشست که به ریاست مولوی عبدالرشید شاروال کابل برگزار شد بررسی شد.**

**به گزارش آژانس باختر؛ در این نشست شاروال کابل، طرح ساخت پل یادشده را که از سوی انجنیران بخش های تخنیکی و فنی این نهاد تکمیل شده است، تائید کرد و بر آغاز کار هرچه زودتر آن تاکید کرد.**

**بربنیاد یک خبر دیگر: کار ساخت یک سرک در مربوطات ناحیه چهارم شهر کابل تکمیل شد این سرک به همکاری اداره انکشافی سازمان ملل متحد به درازای ۵۴۰ متر وپهنای ۸ متر درجریان ۸ ماه ساخته شده است، این در حالی است که شاروالی کابل در جریان سالجاری کار ۷۲ پروژه انکشاف شهری را تکمیل کرده است.**




**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*